استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

لیکوال: ډاکتر نوراحمد خالدی
دو شنبه، ۲۲ نوامبر، ۲۰۲۱
پښتو ژباړونکی: ذبیح الله خوګیانی

# د افغانستان معاصر تأریخ




## دوهمه برخه

### د افغانستان معاصر تاریخ:

لکه څنګه چې وویل شو د یو اوږد دوه سوه کاله لپاره د ننی افغانستان ساحه د پردیو دولتونو لخوا چې مرکزونه یې د ننی افغانستان د سرحداتو څخه دباندی وولکه ډهلی، اصفهان او بخارا څخه اداره کیدو. د افغانستان د معاصر تاریخ دوران په ۱۷۰۹م کال کې د پردیو د سلطی د ختم سره سم د ننی افغانستان، بنسټونه کیښودل شول او د۱۷۴۷م کال څخه دی خواته د ابدالی په امپراطوری، او وروسته د افغانستان په هیواد بدل شو چې تر نن ورځ پورې د ډیرو لوړو او کښتو سره سره ځای پر ځای

پاتی دی. دا دولت یو وخت د کسپین د بحیری څخه په شمال د ننی ایران څخه تر ډهلی او د آمو د سیند څخه تر د عربو سیند پوری سرحدونه لرل.

زموږ د هېواد د معاصر تاریخ پیل، له نوي دولتي حاکمیت او خپلواک ملي هویت سره د یوه خپلواک هېواد رامنځته کیدل دي، چې نن په نړۍ کې د افغانستان په نوم یادیږي.

د یوه داسې هېواد جوړېدل، چې نوی دولتي حاکمیت لري او نن یې نړۍ د افغانستان په نوم پېژني. د لومړي ځل لپاره د میرویس خان هوتکي په پاڅون د فارس د صفویانو پر وړاندې په ۱۷۰۹ م کال په قندهار کې یې بنسټ کېښودل شوو، او بیا د نادر شاه افشار لخوا د یو لنډ وخت لپاره پر ګډوډیو او اشغال سربیره، په ۱۷۴۷ م کال کې د احمد شاه ابدالي د پاچاهی په اعلان سره، چې ورسته په دُراني مشهور شو، تحکیم پیدا کړ او تر نن ورځې پورې پرته له کوم ځنډ څخه لومړی د قندهار په مرکزیت کې او وروسته بیا د کابل به مرکزیت کې د مختلفو جغرافیایي حدودو سره، ادامه لري.

ددې نوي دولت ځانګړې ماهیت (پېژندګلوي) د سیمه ایزو دوو لویو قدرتونو پر وړاندې د سیاسي خپلواکي، چې هغه د هند مغولي دولت او د فارس صفوي دولت وو، افغاني فرهنګ یا ثقافت او حنفي اسلام (افغانیت او اسلامیت) څخه جوړ شوي، چې د میرویس خان هوتکي د وخت څخه بیا تر نن پوری بدلون نه دی کړی.

په افغانیت کې نه یواځې د پښتونولی کوډ شامل دی، په دې کې خراساني فرهنګ هم برخه لري. او د یادونې وړ ده، چې د ۳۰۹ کلونو په ترځ کې د جغرافیایي بدلونونو، د پاچاهانو او امیرانو د بدلون او برعکس د رژیم بدلیدل ددې هیواد په ځانګړي پېژندنه او نوي دولت کې هېڅ بدلون نه دی رامنځ ته کړی.

لکه چې مخکی وویل شو افغانستان له ۱۸ پېړۍ څخه مخکې، دوې دورې شاته پریښې دي. لومړی د اسلام څخه د مخه دوره، یعني د هخامنشي عصر، باختري یونان، کوشاني، یفتلي، ګوپتا، اشکانی او ساساني سلسلی، او له اسلام څخه وروسته دوره، یعني د خلفاې راشیدینو عصر، امویان، عباسیان، طاهریان، صفاریان، سامانیان، غزنویان، غوریان،

سلجوقیان،خوارزمشاهیان، مغولان او نور..

دا دورې، په حقیقت کې دسیمي ګډ تاریخ دی او له بحث څخه بهر دی. هغه څه چې باید دلته بحث پرې وشي، هغه له ۱۸ پیړۍ څخه وروسته د نوي افغانستان رامنځ ته کیدل دی.

ایراني لیکوالان د پردیو د سلطه د رد کولو سره، د متمرکز دولت منځ ته راتګ، د هېواد په ګوټ ګوټ کې ددولت حاکمیت، د یو نوي شیعه هویت ورکول او د دې نظم استمرار د خپل هیواد لپاره

هغه عواملو څخه بولي چې د صفویانو دولت یی د معاصر ایران د دولت پیل بولی، چی تر نن پورې د افشاریانو، زندیانو او قاجاریانو په سلسله بالاخره پهلوي او اسلامي جمهوریت پورې ادامه لری.

کله چی موږ د معاصر دولت په هکله په افغانستان کې له داسې پیژندنې څخه ګټه پورته کړو، نو معاصر افغانستان د هوتکیانو دولت له جوړیدو سره د میرویس خان په وخت کې رامنځ ته شو. دا دولت دصفوي سلطنت نه په لویدیخ کې او د هند له مغولي امپراطورۍ نه د هېواد په ختیځ کې پخپلی خاوری آزادی کړی او خپل حکومت یې پر ټول هېواد باندې حاکم کړ، چی ننی افغانستان منځ ته راغی او د متمرکز دولت، قدرتمند او خپلواک دولت د نوي هویت سره یی منځ ته راوړ او په چټکۍ سره د ابدالي په امپراطورۍ، افغان امپراطوري او د افغانستان په هیواد بدل شوسربیره پر دې، چې دا نوی دولت له درې سوه کلونو څخه را پدیخوا بیا تر نن ورځې پورې په دفاعی جګړو کې د نړۍ له درېو لویو قدرتونو لکه، بریټانوي هند، تزاري روسيي او قاجاري ایران سره د خپل استقلال د دفاع او سرحدونو د ساتنې په موخه کوچنی او لا کوچنی شوی او تر دا مهاله دا لړی لا دوام لري.

هر کله، چې د صفوي دولت هویت شیعه مذهب او پر ایرانی ناسیونالیسم په اصولو د ایران د ملت د ایجاد سبب شو، په همدی اساس د افغان دولتونو ځانګړی هویت: د هغه سُني حنفي اسلامي ماهیت، او پر افغاني ناسیونالیزم ټینګار د افغانستان د ملت د جوړیدو سبب شو چی دافغانستان تول قومونه د قانون او دولت له نظره «افغان» نومیږي..

- پر دی اساس د یو جلا هېواد جوړیدل؛
- یو واحد او خپلواک دولت حاکمیت؛ او د
- یو ځانګړی ملي افغاني هویت درلودل

سره یو نوی هیواد جوړ شو چی تر نن پوری دوام لری.

پورته اصول، په ۱۷۰۹م کال په قندهار کې د میرویس خان هوتک او په ۱۷۱۷ م کال کې د هرات د ابدالیانو د پاڅون او همدا راز بیا په ۱۷۴۷ کال په کندهار کې د احمد شاه ابدالي د پاچاهی تر اعلانیدو، بیا تر نن ورځې پورې ځای پر ځای دی. د قندهار هوتکیان په دی هم وتوانیدل چی صفوي امپراطوري په ۱۷۲۲م کال کې سقوط کړي او د فارس د هیواد ټولې سیمې له خپل هېواد سره یو ځای کړي.

کله چې میرویس خان هوتک د اتلسمې پیړۍ(۱۷۰۹م)، په پیل کې د صفویانو د سلطنت پر وړاندې وپاڅید او یو خپلواک بومي دولت او هیواد په دې سمیه کې جوړ کړ، هغه ځای، یو خاص نوم یی نه درلود او په دې کې شاملې سیمې خراسان، ترکمنستان، بدخشان، کابلستان، افغانستان، سیستان،

غرجستان، زابلستان ، قندهار او بلوچستان سیمی وې چی په یاد هېواد کې  له شپاړسو څخه زیات قومونه، چې په هغې کې پښتانه، تاجیک، هزاره، اوزبیک، پشه یي، عرب، قرقیز، ترکمن، بلوڅ، قزلباش، بیات او نور شامل دي، ژوند کول.

تاریخي حقیقت دادی، چې د هوتکیانو دولت د زرنج د صفاریانو ، غزنویانو، غوریانو، د هرات د تیموریانو او کابل د بابریانو  څخه وروسته لومړی بومي دولت دی، چې د دې هېواد د خپلو خلکو څخه رامنځ ته شوی دی او قدرت ته رسیدلي دي او په دې توانیدلي، چې د فارس صفوي دولت له منځه یوسي او خپلي سیمي تر کنټرول لاندې  راولي.

دا دولت په تصادفي شکل نه دی جوړ شوی، بلکې د خلکو د اوږدو سختو مبارزو او ددې هیواد د ظلم او د اجباری شیعه سازیو په خلاف او د صفوي استیلاګرو او د دوی د سلطنت په ختمولو منځ ته راغلی. په دې هکله ایران  دسیاسي چارو کارپوه بهرام مشیری په تلویزیوني پروګرام کې داسي وویل: ګرګین ته امر وشو، چې پر دې خلکو له ظلم او ستم څخه لاس وانخلي. نو په همدې اساس دوی خپل زغم او  حوصله له لاسه ورکړه او پر وړاندې یې قیام وکړ.

## سلسله هوتکیان

| شماره | نام پادشاه | نسبت با پادشاه قبلی | مرکز حکومت | دوره حکومت (میلادی) |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | میرویس خان هوتک | مؤسس سلسله هوتکیان | قندهار | ۱۷۰۹-۱۷۱۵ |
| ۲ | امیر عبدالعزیز هوتک | برادر میرویس خان هوتک | قندهار | ۱۷۱۵-۱۷۱۷ |
| ۳ | شاه محمود هوتکی | پسر میرویس خان هوتک | قندهار-اصفهان | ۱۷۱۷-۱۷۲۵ |
| ۴ | شاه اشرف هوتکی | پسر امیر عبدالعزیز هوتک | اصفهان | ۱۷۲۵-۱۷۲۹ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | شاه حسین هوتکی | پسر میرویس خان هوتک | قندهار | -۱۷۲۹ ۱۷۳۸ |

شپږ ویشت کاله وروسته په دغه سمیه کې د هوتکیانو او د هرات د ابدالیانو لومړی بومي دولت د نادرقلي افشار په واسطه له منځه یوړل شو، اما د نادر افشار له وژل کېدو څخه وروسته او د احمد شاه ابدالي په همت او همدا راز نورو افغان افسرانو او مشرانو په هڅو بېرته دا هیواد جوړ او پایښت یې پیدا کړ.

د افغانستان د تاریخ په مسیر کتاب کې میر غلام محمد غبار داسې لیکي(۳۵۴ پاڼه): کله چې نادر شاه خراساني ووژل شو، دا مهال په لوی لښکر کې ګډوډي رامنځ ته شوه. په دې وخت افغاني لښکر چې د څلور زره غلجایي او دولس زره ابدالي او اوزبیکانو څخه جوړ شوی وو، د نور محمد غلجایي او احمد خان ابدالي په مشرۍ یې قندهار لور ته حرکت وکړ.

قندهار، چې د افغانستان بین الاقوامي مرکز وو، نور محمد خان د غلجایي، اوزبیک، ابدالي، هزاره، بلوڅ او تاجیک مشرانو او خانانو ته وړاندیزوکړ، چې یوه جرګه جوړ کړي او پاچا وټاکي.

احمد شاه ابدالي په دغه جوړه شوې جرګه کې، وروسته له آتو ورځو خبرو اترو د پاچاه په توګه وټاکل شو.

د تاج اېښودلو په مراسیمو کې یې د پښتون، تاجیک، هزاره او قزلباش قومونو مشرانو شتون درلود (د الفنستون کتاب ته د مراجعه وشی، د کابل د سلطنت ګزارش، دوهم ټوک).

سرور دانش لیکي: «په دې ډول د لومړي ځل لپاره یو دولت د افغانستان په نامه، د سیمې په سیاسي جغرافیه کې را ښکاره شو او سدوزایي دولت د احمد شاه تر رهبری لاندې رامنځ ته شو. احمد شاه د ۱۷۷۳ کال په جون میاشت کې د ۲۵ کاله سلطنت څخه وروسته په ۵۰ کلنۍ کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې» (سرور دانش، د افغانستان سیاسي حقوق، ۱۳۸۹ چاپ،۲۰۰ ص).

یو ځل بیآ د میر غلام محمد غبارد افغانستان د تاریخ په مسیر کتاب کې داسې لولو (۳۶۱ پاڼه): «احمد شاه د ۱۷۴۹ کال په پیل کې لودیځ لور ته حرکت وکړ او هرات ته ورسید. نادري حاکم امیر خان عرب د بهبود خان مروي سره د خلکو د غوښتنو په خلاف تسلیم نه شول او قلعه بندي یې اختیار کړه.په داسې حال کې چې بل لوی خان (درویش علي خان هزاره) د احمد شاه په طرفداری یې پاڅون وکړ. همدا سبب شول، چې احمد شاه عسکري بریدونو پیل شول، د ښار خلکو د خاکستر

برج احمد شاه ته ورکړ او د هرات پر مدافیعیونو یې یرغل وکړ. احمد شاه ښار ونیولو، امیر خان یې اعدام کړ او حکومت یی هزاره درویش علي خان ته ورکړ».

احمد شاه ابدالي د دې هیواد قومونه سره یو ځای کړل او په ډیره چټکی سره یې یو قوي او زبرځواک دولت، چې په تاریخ کې یې د ابدالي د امپراطوری په نوم پیژنیو جوړ کړ. د احمد شاه ابدالي د دولت په اداره کي د هېواد ډیرو قومونو برخه درلوده. لکه څرنګه چې ومو لیدل په اُردو کې یې هزاره ګان، اوزبیکان، غلجایان او ابدالیان شامل وو.

له دې سره سره ، چې احمد شاه ابدالي/ دُراني د بیلا بیلو قبایلو له مشرانو څخه د دولت په اداره کې ګټه اخیسته، مګر نوموړی ډېرپه قومي فیوډالی او د قومي لښکرو په رامنځ ته کیدو، لکه، ابدالي، غلجایي، هزاره، اوزبیک او نورو باندې ولاړ وو.د دې دولت مرکزیت هم په قندهار کې قومی بڼه درلوده.

د احمدشاه نه وروسته د هغه ځوی اعلیحضرت تیمور شاه پریکړه وکړه، چې سیمه ایز فیوډالي قدرت کچه په دولت کې ټیټه کړي او خپل دولت په یوملي دولت باندې بدل کړي. په دې موخه یې پایتخت له قندهار څخه کابل ته انتقال کړه او د یوه قومي اُردو پر ځای یې، یو معاش خوره اُردو رامنځته کړه. سیمه ایز فیوډالان مجبور وو، چې خپل د قدرت د دوام په موخه په قندهار کې پاتې شي.

د تیمور شاه په دولت کې د بیات او قزلباشانو نفوذ ډیر شو او په کابل یا غیر پښتون میشته سیمه کې د مرکز موجودیت ددې سبب شو چی ددو نسلونو نه وروسته په کابل کښی د مېشتو سدوزایانو، بارکزاییانو او محمد زاییانو څخه دري ژبه پښتانه مینځ ته راشی چی ددولت واک یی پرلاس درلود.
د احمد شاه ابدالی ددولت اداری جوړښت د صفویانو د واکمنی د جوړښت پر بنسټ ولاړ وو او قزلباشانو پکی اغیزه درلود. پر همدی بنسټ د دولت اداری ژبه دری یا په عوام معروف فارسی ژبه وه او پس له احمد شاه نه هم فارسی پاتی شو چی د افغانستان پر ملي فرهنګ باندې ژور اغیزه وکړه او د پښتو د ژبی انکشاف باندی ناوړه تاثیر پریښود.